الدرس الثاني

أحكام الاخرة

دوهم درس

دآخرت احکام

د انسان د مرګ ورځ نامعلومه ده ، د الله تعالى نه علاوه بل چا ته نده معلومه چې کله به مرم او په کوم ځائی کښې به مرم ځکه چې دا علم غيب دی ، او ددی خبر صرف او صرف دالله تعالى سره دی . ۳= کله چې مرګ راشی بیا د مرګ نه بچ کیدل ناممکن دی ، نه روستو کیږی او نه ترې تیخته کیږی ، الله تعالى فرمائی: [وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ] {الأعراف:٣٤} ترجمه: او دپاره د هر امت یوه نیټه وی ، پس کله چې راشی نیټه د دوی ، نه به روستو کیدی شي یو ساعت او نه به مخکښې کیدی شي ٤= دمؤمن د مرګ منظر څه داسی وی چې ملک الموت (د مرګ فرینښته) یو ډیر ځائسته شکل کښې راشی ، او مؤمن ته دجنت خوشخبري ورکړی، الله تعالى فرمائي:[إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ المَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ]{فصّلت:٣٠} ترجمه:یقیناً هغه کسان چې وائي رب زمونږه الله تعالى دی ، بیا پاخه شوی وی (په دی وینا) راکوزیږی په دوی باندی ملائک چې مه ویریږي او مه خفه کیږي او زیری واخلي په جنت سره هغه چې تاسو سره ئے وعده کیدی شوه ، د کافر د مرګ منظر داسي وی چې ملک الموت هیبتی شکل جوړ کړی، او دده خوا ته راشی ، تک تور مخ والا وی ، او ورسره د عذاب ملائکه هم وی چې د عذاب خبر ورته ورکوی ، الله تعالى فرمائي : [إِذِ الظَّالِمُونَ فِي غَمَرَاتِ المَوْتِ وَالمَلَائِكَةُ بَاسِطُوا أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوا أَنْفُسَكُمُ اليَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الهُونِ بِمَا كُنْتُمْ تَقُولُونَ عَلَى اللهِ غَيْرَ الحَقِّ وَكُنْتُمْ عَنْ آيَاتِهِ تَسْتَكْبِرُونَ] {الأنعام:٩٣} ترجمه : اوکه أووینئ ته هغه وخت چې ظالمان به په سختو د مرګ کښې وی ، او ملائک به أوږده کونکے وی لاسونه خپل (ورته وائي به) را ؤباسئ ساګانئ خپلې نن بدله درکیدلی شي تاسو ته عذاب د ذلت په سبب د هغه چې جوړولی تاسو په الله تعالى باندی ناحقه خبری ، او وائی تاسو چې د آیاتونو د هغه نه مو لوئی کوله ، مرګ سره حقیقت معلوم شی ، هر انسان ته خپله نتیجه معلومه شی ، الله تعالى فرمائي :[حَتَّى إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ المَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ،لَعَلِّي أَعْمَلُ صَالِحًا فِيمَا تَرَكْتُ كَلَّا إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا وَمِنْ وَرَائِهِمْ بَرْزَخٌ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ]{المؤمنون:١٠٠} ترجمه : (تردی وخت پوری چې راشی یو تن د دوی ته مرګ ، وائی به اے زما ربه! واپس کړئی ما لره دپاره ددی چې عمل أوکړم نیک په بدل د هغی کښې چې ما پریښودلے ، هیچرے نه کیږی یقیناً دا یوه خبره ده چې دی ئے ویونکے دی ، او د دوی مخی ته لویه پرده ده ، تر هغه ورځې پوری چې دوی به دوباره ژوندئ کولے شي) ، کله چې مرګ راشی کافر او ګنهګار به ارمان کوی چې دنیا ته واپس شم ، او نیک عمل وکړم ، لیکن چې وخت تیر شی بیا به افسوس څه فائده نکوی ، الله تعالى فرمائي : [وَمَنْ يُضْلِلِ اللهُ فَمَا لَهُ مِنْ وَلِيٍّ مِنْ بَعْدِهِ وَتَرَى الظَّالِمِينَ لَمَّا رَأَوُا العَذَابَ يَقُولُونَ هَلْ إِلَى مَرَدٍّ مِنْ سَبِيلٍ] {الشُّورى:٤٤} ترجمه : (او هغه څوک چې الله تعالى ئے بے لاری کړی نو نیشته دی هغه لره هیڅوک بچ کونکے روستو د بے لاری کولو نه او وینی به ته ظالمانو لره هر کله چې اووینی دوی عذاب لره ، وائی به دوی آیا شته دی واپسئ ته څه لار .